بسم الله الرحمن الرحیم

د نسخې لیکولو درس   تاریخ 18/8/1402

هر روغتون هر ځانګه په خپل برخه کښی دوه نوری ځانګی لری **( OPD او IPD )** د**OPD** ځانګه چی ورته د سراپا ځانګه هم وایی هغه ډول مریضان ورته راځی چی لږ روغتایی حالت یې خراب وی یعنی دوی خپله مراجعه ورته کوی کوم کومکی کس ونلری . د **IPD** ځانګه والا بیا هغه مریضان دی چی بیرته کورته نسی تللای بلکی په روغتون کښی بیستر کیږی او د داکتر په هدایت دوا ورکول کیږی تر څو چی ښه سو ی نه وی د روغتون څخه نسی تللای دغه ځانګی ته داخل بیستر ځانګه هم ویل کیږی **هره نسخه پّه دوه ډوله سره لیکل کیږی رسمی او غیری رسمی**

**RX** :- کله چی داکتر نسخه لیکی دغه کلیمه و فارمیست او یا هم دده مخاطب کس ته د احترام لپآره لیکی

| د نسخی لیکل په OPDآو په IPD ځانګو کښی | |
|---|---|
| Outpatient Department -: OPD | Inpatient Department -:IPD: |
| د نسخی معیارونه<br>1. لمړی به د درمل ډول لیکل کیږی چی کوم ډول باید مریض ته ورکول سی یعنی په کوم شکل سره (د کفسول او که د امپول)<br>2. وروسته به د درمل نوم استفاده کیږی چی کوم درمل ورکوی<br>3. په څمره ملی ګرام باید ورکول سی<br>4. هر دوز باید په څمره وخت سره استعمال سی<br>5. څوندی باید ورکول سی (تعداد)<br>لاندی دغه نسخه کښی یو درمل مثال وګوری<br>RX:-<br>Tab-Panadol $_{1*3}$ $^{500g}$ (n)$^{r}$<br>په پورته نسخه کښی<br>RX:- د احترام په خاطر و فارمیست ته لیکل سوی دی<br>TAB :- یعنی دوا د تابلیت په شکل ورکړه<br>Panadol:- د دوا نوم دی<br>1*3 :- دری وخته یوه یوه دانه تابلیت باید ورکول سی<br>gr500 :- دغه درمل باید دومره ملی ګرامه وي<br>(N) یعنی څو پاکته یا څو دانی باید ورکول سی<br>نوټونه :٠ په نسخه کښی تجارتی نوم حتمی دی<br>دوهم نوټ :- په OPD ځانګی کښی د داکتر ټوله هدایت و فارمیست ته دی | په IPD ځانګه کښې د ډاکتر هدایت ټوله و نرس ته دی یعنی داکتر و نرس ته وایی چی داسی وکړه<br>OD :- یعنی دوا باید یو وخت ورکول سی یعنی په هر (24) ساعت کښی یو ځلی<br>BID :- دوا باید په دوه وخته سره ورکول سی یعنی هر (12) ساعت بعده<br>TID:- دوا باید دری وخته ورکول سی یعنی هر (8) ساعت بعده<br>QID:- دوا باید څلور وخته ورکول سی هر (6) ساعته بعده<br>SOS /PRN:- یعنی دوا باید د ضرور ت په اساس ورکول سی<br>په IPD په نسخه کښی بیا دوا د لاندی لارو لطریقه ورکول کیږی<br>P/O :- د خولی لطریقه باید ورکول سی<br>S/L :- سب لینګول :- تر ژبی لاندی بیاد ورکول سی<br>S/C :- سب کوټانوس :- تر پوستکی لاندی باید ورکول سی<br>I/M:- اینټرا مسل :- په غوښه کښي باید ولګول سی<br>I/V :- انټرا وینوس :- په ورید کښی باید ورکول سی<br>مثال :<br>P/O paracetamol [illegible] 500 mg<br>پورته نسخه دا سی تحلیل کوو<br>P/O :- دغه دوا د خولی لطریقه باید ورکول سی<br>paracetamol:- د دوا نوم دی چی دغه دوا باید ورکول سی<br>TID :- یعنی دغه دوا باید دری وخته ورکول سی یعنی هر (8) ساعته بعده باید ورکول سی<br>500gr :- دومره ګرامه په اندازه باید ورکول سی |

Ketabton.com

**په درنښت**

**حبیب الرحمن فضلی**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**